

Ketabton.com

# زموږ او د نیکانو صالحانو ترمنځ توپیر

احسان الله محمدي

۱۴۰۳ هـ ش

(c) ketabton.com: The Digital Library

بسم الله الرحمن الرحیم

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د کتاب پیژندنه

د کتاب نوم : زموږ او د نیکانو صالحانو ترمنځ توپیر

ژباړه او ترتیب : احسان الله محمدي

د خپریدو کال: ۱۴۰۳ هـ ش

د چاپ کال:

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ډالۍ

د پخوانیو نیکانو او صالحانو (سلف) ژوند د توحید او بندګي څخه ډک و ددوې د ژوند څخه د توحید او بندګي بوی حس کیده نن ورځ ډیر خلک کوښښ کوي چې خپل ځان د کفارو په شان برابر کړي هغه که سیرت وي یا صورت پداسې حال کې چې سلفو به خپل سیرت او صورت د ګران پیغمبر صلی الله علیه وسلم په طریقه برابرولو دلته ما وغوښتل چې تاسو لپاره داسې یو لنډ کتاب چمتو کړم چې تاسو وکولای شئ خپل ځان د هغوی سره پرتله کړي او د دوې له ژوند او خبرو څخه عبرت ترلاسه کړئ. هره څیړنه چې ترسره کیږي د انسان د وس مطابق وي او الله تعالي انسان ته د یوه عمل ترسره کولو توفیق ورکوي په دغه کوچنی کتاب کې که کومه ستونزه وي دغه زما خپله نیمګړتیا ده او الله تعالي ته امید لرم چې دغه لیکنه زما په صالحاتو کې وشمیري او زما د ګناهونو د ښښنې سبب وګرځي بیا هم د الله تعالي شکر ادا کوم چې ماته یې دا فرصت، صحت او عافیت راکړ چې د الله تعالي د رضا لپاره داسې یوه لیکنه ترسره کړم په آخر کې له ټولو لوستونکو څخه هیله کوم چې ما او زما مور او پلار په خپلو دعاګانو کې هیر نه کړئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زموږ او د نیکانو صالحانو ترمنځ توپیر

## نیکان صالحان (سلف) چاته ویل کیږي؟

سلف د رسول الله صلی الله علیه وسلم یاران (صحابه) دي، سلف د رسول الله صلی الله علیه وسلم د یارانو ملګري (تابعین) دي، سلف د رسول الله صلی الله علیه وسلم د یارانو ملګري ملګري (تبعه تابعین) دي هغه خلک چې د اسلام په لومړیو پنځه سوه کلونو کې ژوند کړي هغوي ته سلف ویل کیږي.

## ولې باید د سلف (پخوانیو نیکانو صالحانو) لاره تعقیب کړو؟

(فکل خیر فی اتباع السلف و کل شر فی ابتداع من خلف) هر هغه څه چې خیر دی هغه د پخوانیو نیکانو او صالحو سلفو په تابعداري کې نښتي دي او هر هغه څه چې شر دی هغه په خلفو کې دی څکه خلفو نوی ځیزونه او بدعتونه رامنځته کړل، ریښتیا هم که چیرته د سلفو ژوند او سیرت مطالعه کړل شي د هغوي د ژوند څخه د توحید او بندګي خوږ بوی راځي.

## د نیکانو صالحانو بریالیتوب په دې کې و چې وخت ته یې ځانګړي ارزښت ورکولو!

ابوبکر صدیق رضی الله عنه فرمایي هیڅکله داسې نه یم ویده شوي چې احتلام شم (څکه د ویده کیدو فرصت یې نه درلود) هیڅکله مې داسې کار ندی ترسره کړي چې پکې غافل شم ګرانه لوستونکیه! د وخت ارزښت له ابوبکر صدیق رضی الله عنه څخه زده کړه.

## نیکان صالحان په ځمکه کې تر ټولو تاثیر لرونکي خلک و!

ابوغوانه رحمه الله فرمایي محمد بن سیرین رحمه الله مې په بازار کې ولید هر چا چې محمد بن سیرین رحمه الله لیده الله تعالي به ور یادیده. (سیر اعلام النبلاء)

امام ابن قیم رحمه الله فرمایي د صالحانو سره لیدنه تا مغرور نه کړي څکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه بل صالح انسان نه و خو بیا هم دده دوښمنانو او منافقانو د دده له لیدني څخه هیڅ ګټه ترلاسه نه کړه. (مدارج السالکین)

## نیکانو صالحانو دین د آخرت د بریالیتوب لپاره زده کولو خو موږ دین د دنیا د بریالیتوب لپاره، همدلته ده چې موږ د علم په زده کړه کې هلاک شوي یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زمونږ او د نیکانو صالحانو ترمنځ توپیر

امام ذهبی رحمه الله په خپل کتاب (سیر أعلام النبلاء (۱۳/۲۹۲) کې فرمايي بقی بن مخلد د اندلس څخه تر بغداد پورې پیاده سفر وکړ تر څو د امام احمد بن حنبل رحمه الله سره ملاقات وکړي د هغه څخه حدیث زده کړي کله چې بغداد ښار ته نیږدې شو خبر شو چې پر امام احمد بن حنبل رحمه الله د درس ورکولو بندیز د حاکم لخوا وضع شوي دغه خبر بقی بن مخلد ډیر اندیښمن کړ، ده خپل سامان په یوه ځای کې کیښودل او د امام احمد د کور آدرس پیدا کولو لپاره ووت کله چې د امام احمد بن حنبل رحمه الله کور یې ټک ټک کړ امام احمد خپله دروازه ورته خلاصه کړه بقی بن مخلد ورته وویل زه مسافر یم د لرې ځای نه راغلي یم تر څو ستاسو څخه علم زده کړم امام صاحب ځواب ورکړ ګرانه داخل شه تر څو د حالتو څخه د باخبره کړم د حاکم لخوا زما پر حلقات بندیز وضع شوي دی زه نشم کولي چې تاته حدیث واورم بقی بن مخلد عرض وکړ چې امام صاحب ماته اجازه راکړه چې هر ورځ په خپل لاس کې د خیرات کجکول سره راځم ستا تر دروازې په دغه وخت کې ماته یو یا دوه حدیثونه وړاندې کوه؟

امام صاحب دغه طرحه خوښه کړه هر ورځ یې یو، دوه یا درې احادیث ورته ویل تر دې چې بقی بن مخلد ۳۰۰ احادیث زده کړل او پر امام صاحب بندیز هم لرې کړل شو. بقی بن مخلد ددې څخه ورسته د امام احمد بن حنبل رحمه الله په درسونو کې ګډون کولو کله چې امام صاحب ده ته غږ کولو بقی بن مخلد یې خپل ځانته نیږدې کیښنولو او نورو زده کونکو ته به یې ویل (اصلی زده کونکي او محصل بقی بن مخلد دی).

### نیکانو صالحانو سنت خیر ګڼلو خو موږ هغه شر او فتنه بولو.

امام مالک رحمه الله فرمايي سنت لکه کیښتي هر څوک چې پکې سپاره شول نجات یې ومومند.

### نیکانو صالحانو څخه چې کله خطا کیده پریشانه کیدل خو موږ فلسفه او بیلابیل دلایل وړاندې کوو.

یوه ورځ مې خپل ګاونډي ته وویل چې په خوشحالي کې ساز او سرود څخه ډډه وکړه ځکه حدیث شریف کې راځي چې ساز او سرود اوریدل ګناه ده خوند اخستل ترې کفر دی دا ډیره خطرناکه موضوع ده، ده راته وویل هر سړي په خپل ژوند کې یوه خوشحالي لری پریږده چې یوه شپه خوشحالي وکړو.

ما په خپل ژوند کې ډیره ځله داسې حالت لیدلي چې کله به نافرماني او ګناه راڅخه وشوه ورسته به کوم مصیبت یا هم پریشاني سره مخ شوم سمدستي به مې فکر کې هغه ګناه او نافرماني حاضره شوه چې فلاني

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زموږ او د نیکانو صالحانو ترمنځ توپير

ځای کې مې ترسره کړي وه نو اړتيا ده چې مسلمان د ګناه کولو څخه ورسته انديښمن شي او په خپله خطا باندې پیښماني وښايي او دلايل دې پکې نه وايي.

**نیکانو صالحانو د یوه مستحب په پرېښودلو سره صدقه ورکوله خو موږ د واجباتو په پرېښودلو کې هیڅ باک هم نه لرو.**

ځيني مسلمان لمونځ نه کوي، الله اکبر په ټوله ورځ کې یو وخت، دوه وخته ځينې پنځه وخته مکمل لمونځ پرېږدي او بېلابيل دلايل وړاندې کوي دا لمونځ فرض دی، ځينې روژه نه نیسي، ځينې ذکات نه ورکوي، ځينې خلک د حج تللو وس لري خو نه ځي بيلابيل دلايل وړاندې کوي.

**نیکانو صالحانو په جنګ کې هدف شهادت او د حدودو اقامه وه خو موږ نصرت او بریالیتوب په بیرته راتګ او ژوندي پاتي کیدو کې ګورو.**

خالد بن ولید به کفارو ته په لیک کې ويل تسلیم شئ يا هم زموږ په منځ کې داسې نارينه هم شته چې وژل کيدل ورته دومره ګران دی لکه تاسو ته چې شراب څښل دومره ګران دي.

**نیکانو صالحانو ته حاکمان او پادشاهان د پشې په اندازه ارزښت هم نه درلود له دې خاطره د سلف نوم تر اوسه پاتي دی خو موږ دومره چاپلوسي ورته وکړه چې خپل ځان مو د تاريخ په کثافت داني کې واچولو.**

امام بخاري رحمه الله د حاکمانو سره ناسته او ولاړه او هغوی ته چاپلوسي نه ځان ساتلو او پدې عقيده و چې په دين کې استقامت د حاکمانو سره په ناسته پاسته کې ستونزمن دی. هغه به ويل چې حاکمانو سره ناسته د دين خواريدل او حاکمانو ته نیږدې کيدل دين ته ضرر رسول دی. هغه خلک چې د حاکمانو سره موافق دی حق او باطل نه رعايت کوي ځکه ډير ښه انسانان هم پدې شکل حق او باطل نشي توپير کولي او انحراف لوري ته ځي.

**نیکانو صالحانو د جماعت لمونځ ته دومره اهميت ورکولو دوې به ويل زموږ اولادونه وفات شي خلک تسليت ته راځي خو کله چې د جماعت لمونځ پاتي شي هيڅوک تسليت ته نه راځي.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زموږ او د نیکانو صالحانو ترمنځ توپیر

سعید بن زید رحمه الله مې ولیدو چې د جماعت لمونځ پرېښودلو په خاطر خپله ګېره په لاس نیولي وه او ژړل يې. (اللحیه، ٦/١٢٥)

## د نیکانو صالحانو ښځو تاریخ جوړونکي خلک جوړول.

کله چې حسان بن ابی سنان رحمه الله د اختر لمانځه ځخه بیرته راغي ښځې يې ورته وویل څو داني ښایسته ښځې دې ولیدې؟ ده ورته وفرمایل کله چې بهر شوم تر راتګ پورې مې خپلو ګوتو ځخه پرته بل چیرته ندي کتلي. (التبصره ابن جوزي رحمه الله ١٠٦)

## نیکانو صالحانو خپل ګناهونه د غره په شان لیدل او ډاریدل چې غر پرې ونه لویږي او موږ ته ګناهونه داسې نه ښکاري لکه یو مچ چې په پزه مو ناست وي.

شیخ ابن عثیمین رحمه الله فرمایي ګناهونه هغه پرده ده چې حق لیدلو ته مو نه پرېږدي. (شرح الممتع)

امام شافعي رحمه الله فرمایي د ګناهونو ځخه لرې والی او هغه څه چې په تا پورې اړه نلري د زړه نوراني کیدو باعث کیږي. (سیر اعلام النبلاء ١٠/٩٨)

## نیکانو صالحانو ویل الله تعالي دنیا موږ لپاره پیدا کړي خو موږ يې د آخرت لپاره پیدا کړي یو.

شیخ محمد صالح المنجد فرمایي دنیا د آخرت دریا ده، شبهات او شهوات په دریا کې ځپې دی او سنت په دریا کې کېښتي ده د الله تعالي ځخه مرسته غوښتل دوه پاروګان دی چې کېښتي پرې ځي او باد ستاسو نیک نیت دي او ستاسو توبه ستاسو نیک عمل او تقوا ده.

## نیکانو صالحانو ته چې کله الله تعالي رزق ورکولو هغه يې د خپلو ورونو سره ویشلو!

امام ابن قیم رحمه الله فرمایي ومې لیده چې ابن تیمیه رحمه الله د جمعې ورځې لمانځه ته بهر شو هر هغه څه چې په کور کې د خوراک ورسره و هغه به يې په لاره کې په پټه توګه صدقه کول.

## نیکانو صالحانو داسې عبادت کولو چې حتی نیږدې ملګري هم پرې نه خبریدل!

محمد بن واسع رحمه الله فرمایي یوه سړي شل کاله په لمانځه کې ژړلي و خپله ښځه يې هم پرې نه وه خبره شوې. (صفة الصفوة ١٩٣/٣)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زموږ او د نیکانو صالحانو ترمنځ توپیر

## نیکانو صالحانو ته دنیا د خپلو زړو بوټانو په اندازه ارزښت نه درلود!

سلفو به ویل، کله چې موږ په لمانځه پیل کولو دنیا به مو د بوټانو سره یو ځای باسله.

## ډیرو نیکانو صالحانو خپلې سترګې د الله تعالي څخه د ډار او قیامت ورځې په خاطر د لاسه ورکړي!

د ذهبي صاحب د تحقیق پر اساس ۱۴۴ تنو سلفو خپلې سترګې د الله تعالي ډار او قیامت ورځې په خاطر له لاسه ورکړي.

## نیکانو صالحانو به داسې لمونځ کولو چې دا یې آخري لمونځ دی او د دنیا سره الله پاماني کوي!

موږ داسې لمونځ کوو لکه یو عادت، هغوي په لمانځه کې خشوع لرله بیلابیلې نبوي دعاګاني یې پکې لوستي تر څو د لمانځه څخه په پوره معنا خوند واخلي.

## نیکانو صالحانو زده کړه کوله تر څو ځان او نور د دوزخ د اور څخه وژغوري خو موږ زده کړه ددې لپاره کوو چې مشهوره شو ځان دوزخ ته داخلو او نور هم ورته دعوت کوو.

یو ځلې د امام احمد رحمه الله تره د هغه حضور ته راغي ګوري چې امام احمد خفه دی تره یې پوښتنه وکړه څه شي شوی؟ امام احمد ځواب ورکړ د هغه چا په حال خوشحالي ده چې الله تعالي ګمنام کړي (یعني په نړۍ کې شهرت نلري یوازې الله تعالي یې پیژني).

همدارنګه هغه به ویل غواړم چې د مکې په غرونو کې ووسم تر څو ما څوک ونه پیژني او همدارنګه کله چې په لاره تلو نه یې خوښیده چې څوک یې په شاه پسې راشي.

## د نیکانو صالحانو ښځو خپلو مجاهدو خاوندانو ته ویل موږ هغه مهال په تاسو ویاړو چې تاسو د شاه څخه شمشیر خوړلي نه وي (د دوې ډار دا و داسې نه چې خاوندان یې د جهاد میدان څخه وتښتي).

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زموږ او د نیکانو صالحانو ترمنځ توپیر

ابو قدامه ته يوې ښځې وويل ځوی مې جنګ ته بوځئ کله چې د جنګ نه بيرته راتلئ زيرې راکړئ وويل شول کوم زيری؟ ښځې وويل که چيرته مې ځوی دوښمن سره په مخامخ ډول شهيد شو دغه زيری دی. (صفوة الصفوة)

## نیکانو صالحانو خپل محبوبه ځیزونه د مسلمانانو په خدمت کې ایښودل او موږ ته راشه

کله چې مهاجرينو د انصارو په لور هجرت وکړ انصاري سړی مهاجر سړی ته راغي او ورته يې وويل راځه چې کور، خواړه او کالي سره وويشو.

بل صحابي وويل چې زه دوه ښځې لرم يوې ته طلاق ورکوم او هغه ستا په نکاح کې راولم.

## نیکانو صالحانو په خپل ژوند کې د یو بل بې احترامي نه کوله که کوم وخت بې احترامي ترې کیدله د یو بل مخ ته لیدلي هم نشو.

ابن حبان رحمه الله خومره ښه ويلي سکوت د محبت او احترام باعث کيږي او هر چا چې خپله ژبه کنترول کړه د خپل ځان لپاره يې آرامتيا اخستي ده. (روضه العقلاء ۴۱)

احمد ديدات رحمه الله فرمايي انسانان بغير له کوم اختيار (رنګ، سلامتي او نسب) دنيا ته راغلي که چيرته خلق ته درناوي نه کوي خالق ته يې درناوي وکړه!

## نیکان صالحان هغه مهال پر خپل زوړتوب خبریدل چې په عبادت کې یې کموالي راتلو.

مالک بن دينار رحمه الله فرمايل صالحانو تل يو بل ته په درې خبرو توصيه کوله د ژبې زنداني کول، د استغفار ډير ويل او ګوښه کيدل. (صفوة الصفوة ۱۹۶/۳)

د ګوښه کيدلو څخه مطلب خلوت کړل و د عبادت لپاره تر څو علم ترلاسه شي او د بې ځايه ملګرتيا مخينوي هم پکې شوي وي.

## نیکانو صالحانو داسې ښځه انتخابوله چې ښځه یې لاس ونیسي او جنت ته یې بوځي (هغوي به ویل چې راځه لاس مې ونیسه تر څو په دنیا او آخرت کې سره یو ځای و) خو موږ داسې ښځه انتخابو چې شهوت پرې رفع کړو او آخرت پرې د لاسه ورکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زموږ او د نیکانو صالحانو ترمنځ توپیر

روایت شوي چې امام احمد رحمه الله خپل ځوی ته وویل کله چې ما واده وکړ څلویښت کلن وم زه او مور دې شل کاله سره یو ځای و په دومره وخت کې پر یوې کلمې هم زموږ اختلاف نه دی راغلی.

### نیکانو صالحانو به ویل چې کله مو گناه کوله سمدستي مو د گناه سزا لیده.

یو نفر حسن بصري رحمه الله ته راغي او ورته یې وویل آیا موږ نه شرمیږو چې څو څو ځلې گناه کوو خو بیا هم الله تعالي ته راگرځو، حسن بصري رحمه الله د شیطان لومو څخه خبر و ورته یې وویل شیطان خوښوي چې پدې خبرې سره پر بندگانو مسلط شي.

### نیکانو صالحانو جهاد د الهي نظام اقامه ی لپاره ترسره کاوه خو موږ د شهرت، مقام او حکومت لپاره جهاد ترسره کوو.

ابو درداء رضی الله عنه فرمایلي ای خلکو مخکې له دې چې د الله تعالي په لاره کې جهاد وکړي لومړي نیک اعمال ترسره کړئ ځکه تاسو د نیکو اعمالو په واسطه جنگیږي.

سفیان بن عیینه رحمه الله فرمایي جهاد په لسو برخو ویشل شوي چې یوه برخه یې جهاد له دوښمن سره دی نهه نورې برخې یې د خپل نفس سره جهاد دي. (حلیة الاولیاء ۱۴۷/۷)

### نیکانو صالحانو تل خپل نفس ملامت کولو خو موږ تل نور ملامت کوو.

امام ابن قیم رحمه الله فرمایي هر څوک چې په خپل نفس باندې ښه گمان ولري د خلکو په وړاندې تر ټولو جاهل دي. (مدارج السالکین ۱۸۹/۱)

ابراهیم خواص رحمه الله فرمایي خپل نفس ته مې وویل ای نفسه! داسې قرآن ولوله لکه الله تعالي چې قرآن را نازلوه او تا غوږ ورته نیوه هغه مهال و چې خوند مې وڅکه. (سیر اعلام النبلاء ۱۸۰/۸)

### نیکانو صالحانو چې کله حرام عمل لیدو سمدستي به یې پریښودو او بیا یې تر آخره عمره نه ترسره کولو خو موږ حرام عمل په مسلسل ډول تکرارو.

امام بخاري رحمه الله فرمایي د کوم وخت راهیسي چې پوه شوم غیبت حرام دی بیا مې د هیچا غیبت ندی کړی په ریښتیا زه امید لرم چې د قیامت په ورځ د الله تعالي سره په داسې حال کې ملاقات وکړم چې د هیچا غیبت مې نه وي کړي او نه هم د کوم مسلمان په غیبت محاسبه کړل شم. (فتح الباري ۱/۴۸۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زموږ او د نیکانو صالحانو ترمنځ توپیر

## نیکانو صالحانو ډیر لږ عمل ترسره کولو خو په اخلاص او دوامداره توگه، خو موږ ډیر عمل ترسره کوو د سنت خلاف او ریا سره یو ځای.

یوسف بن اسباط رحمه الله فرمایي الله تعالي هغه عمل چې په هغې کې یوه زره ریا وي نه قبلوي. (حلیه الاولیاء ۸/۲۴۰)

## نیکانو صالحانو به تل کوښښ کولو چې خپل ایمان پیاوړي کړي خو موږ تل خپل وخت د نورو په تفتیش او پلټنه کې تیرو.

معاذ بن جبل رضي الله عنه خپلو ملگرو ته ویل راځي چې سره کیښنو تر څو ایمان مو زیاتوالي وموومي. (صحیح البخاري)

## نیکانو صالحانو مسجد خپل سیاسي او عبادتي مرکز شمیرلو خو موږ مسجد یوازې د عبادت لپاره ځانگړي کړي.

د افسوس ځای دا دی چې نن سبا د پولیو واکسین، ورک شویو ماشومانو اعلانات، د جنازې اعلانات، د سیمکارت ثبتول، د فاتحي ویلو مرکز، د جنگونو او بې ځایه بحثو مرکز او آن تر دې چې د ډیمکراسي لپاره رایه اچوني مرکز هم ترې جوړ شوي ډیر نور مثالونه هم شته.

## نیکانو صالحانو به ویل موږ دعوت کونکي یو نه قاضیان خو برعکس موږ قاضیان او حکم چلونکي یو.

امام غزالي رحمه الله ته یو سړي راغي او ورته یې وویل فلاني لمونځ نه کوي زه هغه ته کافر وایم امام غزالي رحمه الله ورته وویل ته هغه ته کافر وایې ورشه د لاس نه یې ونیسه او لمانځه ته یې بوځه.

## نیکانو صالحانو تر ټولو ډیر قدر علم ته ورکولو خو موږ؟

خواجه عبدالله انصاري رحمه الله د مدرسي په لوړ روان و چې باران وریدل پیل کړل ده خپل کتابونه په خپلې سینې پورې کلک کړل تر څو نم ونه کړي.

همدغه پایله ده تر څو چې علم ته قدر ورنکړي تاته هم قدر نه درکوي!

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زموږ او د نیکانو صالحانو ترمنځ توپیر

### نیکانو صالحانو تر ډیره په هر کار کې ادب ته لومړیتوب ورکولو.

ابن قاسم رحمه الله فرمايي شل کاله د امام مالک رحمه الله په خدمت کې وم دوه کاله مې علم زده کړ او اتلس کاله مې د ادب زده کړه وکړه ای کاش چې ټول شل کاله مې د ادب په زده کړه کې تیر کړي واي.

### نیکان صالحان به سهار لمانځه ته د خپل ایمان په واسطه پورته کیدل خو موږ د موبایل پر زنګ هم نشو پورته کیدی.

حاتم اضم رحمه الله فرمايي د سهار لمونځ پریښودل لوی مصیبت دی چې باید همدردي او عزاداری ورته وشي. (صلاح الامة ۴۲۰/۲)

خالد ابو شادی فرمايي هره ورځ لومړنی جنجال د بنده او ابلیس ترمنځ د سهار په لمانځه کې رامنځته کیږي که چیرته بنده بریالي شو ورځ یې با برکته ده.

### نیکانو صالحانو دا عادت و چا چې دده عیبونه ورته بیانول مینه یې ورسره کوله خو موږ ته دا کس تر ټولو بدترین انسان دی چې زموږ عیبونه راته بیانوي.

فضیل بن عیاض رحمه الله فرمايي هر څوک چې د داسې ملګري په لټه کې وی چې هیڅ ډول عیب ونلري یوازې به پاتي شي.

### نیکانو صالحانو د بدې خاتمې څخه ډیر ډاریدل خو موږ هیڅ ډار نلرو.

یوه شپه سفیان ثوری رحمه الله تر سهاره ژړل کله چې سهار شو چا پوښتنه تري وکړه آیا دغه ټوله ژړا د ګناهونو لپاره ده؟ سفیان ثوری رحمه الله یوه خښته پورته کړه او ویې ویل چې ګناهونه تر دې هم سست دی خو زه له بدې خاتمې ډاریږم.

### نیکانو صالحانو تل کوښښ کولو تر څو د خلکو په خبرو پسې ونه ګرځي او نه هم د هغوي خبرو او ښکنځلو ته اهمیت ورکړي.

یوه سړي وهب بن منبه رحمه الله ته وویل فلاني تاته ښکنځل کړي وهب ورته وویل شیطان له تاسو بغیر بل څوک پیدا نه کړل چې دا خبره ماته راوړي. (منهاج القاصدین ۱۸۴)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زموږ او د نیکانو صالحانو ترمنځ توپیر

## نیکانو صالحانو د الله تعالي رضایت لپاره کار ترسره کولو او د خلکو رضایت یې پرېښودو.

موږ د الله تعالي رضایت پرېښي او خلکو رضایت لپاره کار ترسره کوو په داسې حال کې چې خلک هیڅکله هم نه راضي کیږي.

## نیکان صالحان پدې لټه کې و چې څوک ورته نصحیت وکړي او دوې ورڅخه مننه وکړي خو موږ ته راشه.

یوه سړي امام ابو حنیفه رحمه الله ته وویل د الله تعالي څخه وډار شه! امام ابو حنیفه رحمه الله ورته وویل الله تعالي د تاسو ته خیر درکړي څومره خلک شته چې هر وخت باید داسې خبره ورته وکړل شي. (سیر أعلام النبلاء)

## د نیکانو صالحانو ترمنځ محبت داسې و لکه د دوه ورونو ترمنځ محبت.

ابراهیم بن أدهم رحمه الله د خپلو دریو ملګرو سره یو ځای په یوه سفر روان و په لاره کې یوه مسجد ته داخل شول هوا ډیره سړه وه او مسجد دروازه هم نه درلوده کله چې د ابراهیم بن أدهم رحمه الله ملګري له خوبه راپاڅیدل ګوري چې ابراهیم بن أدهم دروازې ته ولاړ دی ورته یې وویل ولی نه یې ویده شوي؟ ابراهیم بن أدهم رحمه الله ورته وویل وډار شوم چې تاسو یخ ونه وهي ځکه دروازې ته ودریدم. (التبصرة ٢٦٣/٢)

## نیکانو صالحانو په جنازه کې د مړي لپاره نه ژړل بلکې د خپل ځان لپاره یې ژړل چې دا ورځ په ما هم راتلونکې ده.

موږ خو په جنازه کې نه خپل ځانته ژاړو، نه مړي لپار دعا کوو بلکې خاندو او خپل تجارت اړونده بحثونه پکې ترسره کوو.

## سلفو د رسول الله صلي الله علیه وسلم احادیثو ته داسې درناوي درلود چې کله به یې صحیح حدیث واوریدو تازه به شول راشه موږ ته کله چې حدیث واورو درناوي هیڅ نشته بیلابیلي ټاپې په حدیث ویونکي باندې وهو.

عطاء بن ابی رباح رحمه الله فرمایي کله چې څوک ماته حدیث وړاندې کړي زه ورته داسې غوږ نیسم لکه هیڅ مې چې نه وي اوریدلي په داسې حال کې چې ما مخکې اوریدلي. (البدایة و النهایة ٣٣٥/٩)

(c) ketabton.com: The Digital Library

# زمور او د نیکانو صالحانو ترمنځ توپیر

## نیکانو صالحانو مخکې له دې چې خبره وکړي فکر کولو ورسته یې پر ژبه بیانول.

ابن دقیق العید رحمه الله فرمایي داسې وینا مې نده کړي او نه داسې عمل مګر دا چې الله تعالي پر وړاندې مې ځواب آماده کړي. (فتح المغیث ۹۳/۱)

## نیکانو صالحانو د لارې اندازه په اذکارو حسابوله خو موږ یې په ساز او آواز رالنډو.

که چیرته د سلفو څخه چا پوښتنه کوله چې د کور او مسجد ترمنځ څومره فاصله ده دوې ورته ویل چې ۱۸۰ ځلې سبحان الله یا هم ۲۱۲ ځلې الحمدلله ویل.

## نیکانو صالحانو کله چې غوښتل ګناه ترسره کړي آخرت ورځ یې په یاد راوسته.

یوه سړي عمر بن عبدالعزیز ته ښکنځلې وکړي عمر رحمه الله ورته وویل که چیرته قیامت نه و ځواب مې درکولو. (نثر الدرر ۲۸۵/۱)

امام شافعي رحمه الله فرمایي هیڅکله مې په الله تعالي، نه په ریښتیا او نه په درواغو قسم یاد کړي (خو موږ په حق او ناحق په الله تعالي قسم یادوو آن تر دې چې ځینې ناپوهان په غیر الله قسم یادوي لکه مور، پلار، زیارت، قبر، سر، مال، اولاد او ډیر داسې مثالونه شته).

## نیکانو صالحانو به ویل شپه مو د الله تعالي دیدار لپاره خوښه ده او ورځ مو د خلکو لپاره خوښه نده.

امام ابن قیم رحمه الله فرمایي بنده پروردګار لري چې هرومرو به ورسره ملاقات وکړي او کور لري چې په هغې کې به استوګن شي نو پدې اساس بهتره ده چې د ملاقات څخه مخکې خپل پروردګار راضي او خوشحاله کړي او مخکې له استوګن کیدو خپل کور آباد کړي. (الفوائد ۳۱)

## نیکانو صالحانو به چا کې کوم عیب ولید سمدستي خپلو عیبونو ته نظر کاوه او ویل به یې که چیرته زه د کوم مسلمان عیب وپلټم الله تعالي داسې څوک مقرروي چې زما عیبونه بیان کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زموږ او د نیکانو صالحانو ترمنځ توپیر

فضیل بن عیاض رحمه الله فرمایي د منافق له نښانو څخه دا هم دی، دده خوښېږي هغه څه چې په ده کې نشته وستایل شي، دده نه خوښیږي هغه عیبونه چې په ده کې شته بیان شي. هغه څوک چې دده عیبونه بیان کړي د هغې څخه یې بد راځي او د نورو خلکو عیبونو اوریدلو باندې ډیره خوشحالیږي. (تنبیه المغترین)

**د نیکانو صالحانو عادت دا و چې نرم زړونه یې درلودل او د نرم زړه علت ډیره ژړا وه خو موږ په کلونو کلونو هم نه ژاړو ځکه ځینې وایی بې غیرته خلک ژاړي.**

د عمر بن عبدالعزیز ښځې فرمایل هیڅوک مې ندی لیدلي چې د عمر بن عبدالعزیز په څېر د قیامت څخه وېدار شي او په لمانځه کې دومره وژاړي ځینې وخت مې فکر کولو چې د ډیرې ژړا له لاسه مړ شوي.

**نیکانو صالحانو په خپل جسم کې بدلون د ګناهونو ډیروالي بللو خو موږ؟**

ابو سلیماني دارانی رحمه الله فرمایل هره ورځ مې په آینه کې لیدل چې آیا مخ مې تور شوي یا نه؟

**نیکانو صالحانو د منکراتو پر وړاندې لکه غر ودریدل خو موږ؟**

سفیان ثوری رحمه الله فرمایي په الله تعالي قسم چې کله مې یو منکر لیدلو او نشو مې کولي چې منع یې کړم د ډیرې غوسې نه مې بولې په وینو بدلیدې.

**د نیکانو صالحانو په وخت کې کافران د مسلمانانو له ښځو څخه ډاریدل خو اوس کفار د نارینه مسلمانانو څخه هم نه ډاریږي.**

دا ځکه چې نیکان صالحان د کفارو سره سخت او د خپل مسلمان ورور سره نرم و خو نن برعکس د کفارو سره نرم او د خپل مسلمان ورور سره سخت دي.

**نیکانو صالحانو ددې لپاره چې بدعتونه په دین کې پیدا نشي د سنتونو لپاره خپل ځانونه قربانول او ویل به یې د رسول الله صلی الله علیه وسلم سنت رسول امت ته په ستونې باندې د دوښمن لخوا تیر لګیدو څخه بهتره ده ځکه یوازې د انبیاء وارثان سنتونه تبلیغوي خو موږ نه یوازې چې سنت نه عملي کوو بلکې بدعتونه مو ویشلي او حسنه بدعت په نوم یې ترسره کوو.**

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زموږ او د نیکانو صالحانو ترمنځ توپیر

رسول الله صلي الله عليه وسلم په خپلو دعاګانو کې د محیا او ممات له فتنو څخه پناه غوښته.

فتنه المحیا: ټولې هغه فتنې چې په دین او دنیا کې شتون لري کله کفر، بدعت، عصیان او داسې نور.

فتنه الممات: کې بده خاتمه او د قبر فتنه شاملیږي. (تفسیر ابن رجب رحمه الله ۲۰۸/۳)

عبدالله بن مبارک رحمه الله فرمایي د ایمان نور په هغه چا کې نه ښکاریږي مګر هغه چا کې چې د سنت تابعداري وکړي او د بدعت څخه لرې والی. (المدارج ۱۲۵/۳)

**نیکانو صالحانو خپل یوالی په قرآن او سنت کې لیدو خو موږ خپل یوالی په قوم، ژبه او هیواد کې ګورو.**

نن چې مسلمانانو ته ګورو د هر مسلمان څخه د قوم پرستي بوی راځي د جومات په لومړي قطار کې به پنځه وخته لمونځ کوي خو لومړي درجه قوم پرست به وي همدغه دلیل دی چې کفارو په ځانګړي توګه یهودو موږ ډیر ښه مطالعه کړي یو، نن چې موږ دومره کمزوري یو تر ټولو ستر لامل یې قوم پرستي، هیواد پرستي او ملت پرستي ده.

**زموږ او د سلفو توپیر دا دی چې هغوي به واوریدل سمدستي به یې اطاعت کولو خو موږ چې کله واورو اطاعت نه کوو بلکې عذرونه او بهانې هم وړاندې کوو.**

شیخ محمد صالح المنجد ښوموه ښه فرمایي د الله تعالي سره محبت یوازې عاطفي ندي بلکې محبت هغه دی چې د الله تعالي اوامرو څخه اطاعت وشي. (خطبه: العبودیة لله شرف)

**نیکانو صالحانو چې کله کوم دلیل نه درلود قناعت یې کولو او د الله تعالي څخه یې غوښتل چې په حق لاره یې روان کړي او هغه چا چې دوې ته د حق لاره ورښوده هغوي لپاره یې دعا کوله خو موږ تل د حق څخه مخ اړو باطل خوښو او د مقابل لوري رایه نه قبلوو او نه هم درناوي ورته ولرو.**

شیخ الاسلام ابن تیمیه رحمه الله فرمایلي د حق سرچینه په دوه ځیزونو کې ده د حق پیژندل او د حق سره مینه درلودل. همدارنګه د باطل سرچینه هم په دوه ځیزونو کې ده د علم کمښت او بد نیت درلودل. (درء تعارض العقل والنقل)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## نیکانو صالحانو به چې کله ګناه وکړه اندیښمن کیدل خو موږ ویاړ پرې کوو او ترسره کوو یې.

ګناه د انسان په زړه کې داغ رامنځته کوی دغه داغ د ګناهونو په ډیروالي سره نور هم ډیریږي آخر کې د انسان زړه په مکمل ډول تور شي چې ورسته ګناه ورته ګناه نه ښکاري او حتي ځینې پیدا کیږي چې په خپلې ګناه ویاړ کوي او نورو خلکو ته یې بیانوي چې دا خپله د ګناه څخه لویه او بدتره ګناه ده.

## نیکانو صالحانو به د ورځې لس لس آیاتونه حفظ کول ورسته به یې عمل پرې کولو خو موږ د قرآن یوه صفحه زده کړو تر څو په بدعتي مراسمو کې پرې پیسې ترلاسه کړو.

هغوي قرآن زده کولو ورسته یې عمل پرې کړو خو موږ قرآن ددې لپاره زده کوو چې پیسې پرې وګټو.

یوه عرب لیکلي و کله چې قرآن حفظ کړو جایزه راکول کیږي خو کله چې عمل پرې وکړو ځای مو زندان شي.

## نیکانو صالحانو د یوه سنت په پریښودو سره کفاره ورکوله او خپل نفس یې ملامت کولو خو موږ د کبیره ګناهونو په کولو او فرایضو په پریښودو عادت شوي یو.

د سنت ځای بدعت نیولي، بدعت خلکو ته ښه ښکاري ځینې داسې فکر کوي چې پدې بدعت کې اجر هم شته په داسې حال کې چې بدعت ګمراهي ده.

## نیکانو صالحانو تل کوښښ کولو تر څو خپل ځان او نور جنت ته بوځي خو موږ ته تل کوښښ کوو چې نور دوږخ ته بوځو او خپل ځان جنت ته، آن تر دې چې ځینې وخت خپل ځان جنتي بولو او نورو دورخیان.

مالک بن دینار رحمه الله له یوه سړي واوریدل چې هغه وویل که الله تعالي په جنت کې ماته کوچنی کور راکړي زه راضي یم مالک وویل وروره ای کاش همداسې چې د جنت په اړه کمه تمه لري په دنیا کې هم کم تمه او زاهد واي. (تنبیه المغترین ۱۰۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library

## زموږ او د نیکانو صالحانو ترمنځ توپیر

**نیکانو صالحانو خپله ګناه په افتخار سره نه ښکاره کوله، استغفار یې کولو او په خپله ګناهونو یې پیښماني ښکاره کوله او خپلو ګناهونو ته یې بیلابیلې بهاني نه لټولي کله چې به کومه ګناه ترې وشوه د هغې جبران لپاره یې بیرته نیکي ترسره کولې.**

ابن قیم رحمه الله فرمايي زړه په ګناه او غفلت سره زنګ وهي خو په استغفار او ذکر سره رڼل کیږي. (الوابل الصیب ۵۰)

استغفار وکړه ځکه د نړۍ تر ټولو پاکیزه انسان استغفار کړي (صلی الله علیه وسلم)

**نیکانو صالحانو تل کوښښ کولو چې په خیر کار کې مخکې والی وکړي.**

شیخ صالح العصیمی څومره ښه فرمایلي د خیر کار توفیق دی او ډیرو لږو ته برابریږي، د شر کار خذلان دی او ډیرو ته برابریږي.

خیر مه پریږده ځکه ترسره کونکي یې لږ دی او د شر لورې ته مه ورځه ځکه ترسره کونکي یې ډیر دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## اخذليکونه

- سير اعلام النبلاء
- قصه های شيرين محمدی و سلف صالح
- اقوال سلف صالح
- الابانه
- الوابل الصيب
- تنبيه المغترين
- درء تعارض العقل والنقل
- تفسير ابن رجب رحمه الله
- الفوائد
- نثر الدرر
- فتح المغيث
- منهاج القاصدين
- صلاح الامة
- تفاوت ما با سلف صالح، ابو شاكر مسلم، ۱۳۹۸هـ ش.
- او داسي نور...

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**